# ورځې شپې څنګه تېرې کړے شي؟

**15-December-2022**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)

**په 15 دسمبر کال 2022ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان**

# ورځې شپې څنګه تيرې کړے شي؟

**په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...**

۞--- د امام اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ورځې او شپې جَدوَل

۞---ورځ او شپه د فنا پيغام ورکوي

۞--- د ورځو او شپو جَدوَل څنګه جوړ کړے شي---؟

۞--- د کفنونو پټوونکے غَل څنګه اوبخښلے شو؟

۞--- هره ورځ دا 4 کارونه هم اوکړئ!

**پيشکش**

اَلْمَدِيْنَۃُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د حضرت ابو درداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: چا چې سحر او ماښام په ما باندې 10، 10 ځله درودِ پاک اولوستلو د قیامت په ورځ به زما شفاعت د هغه نصیب کیږي-[1]

جس کے ماتھے شَفاعت کا سہرا رہا | اس جَبینِ سَعادت پہ لاکھوں سلام[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نیت بنده جنت ته بوځي-[3]

اے عاشقانِ رَسُول! ښه ښه نیتونه بنده جنّت ته رسوي، د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به بیان اورم. ❀ عِلمِ دین به زده کووم ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ❀ نصیحت به حاصلووم ❀ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغیب والترہیب، کتاب: النوافل، صفحہ:223، حدیث :19-
2...حدائقِ بخشش، صفحہ:300-
3...مسند فِردَوس، جلد:4، صفحہ:305، حدیث:6895-

## د امام اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ورځې او شپې جَدوَل (Schedule)

حضرت مِسعَر بن كِدَام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه د امامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه جُمات ته حاضِر شوم، ما اوكتل چې د سحر د لمونځ ادا كولو نه پس به هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خلقو ته تر ماسپښينه علمِ دين ښودلو، په دغه وخت كښې صِرف د لمونځونو د پاره دَمې اوشوې- د ماسخوتن د لمانځه نه پس هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل كور ته تشريف يوړلو- لږ وخت پس ئې ساده جامې واغوستلې، ښه عِطر ئې اولګول او فضاګانې ئې معطره كړې، خپل نوراني مخ ئې اوځلولو، د جُمات په كوټ كښې په نفلونو ادا كولو كښې مشغول شو تر دې پورې چې صبحِ صادق شو، اوس ئې كور مبارك ته تشريف يوړلو او جامې ئې بدلې كړې او واپس راغلے او د سحر لمونځ د جَمعې سره د ادا كولو نه پس د تيرې ورځ په شان د ماسخوتن د لمونځ پورې د درس او تدريس سلسله جاري شوه- ما سوچ اوكړو چې هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به ډير ستړې شوي وي، نن خو به خامخا آرام كوي، خو په دويمه شپه ئې هم هغه معمول وو- بيا دريمه ورځ او شپه هم دغه شان تير شول- زه ډير متاثره شوم او ما فيصله اوكړه چې ټول عمر به د هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت كښې تيرووم- نو هم دغه شان ما د هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په جُمات كښې مستقل قيام اختيار كړو- ما د خپل قيام په موده كښې چرې هم امام اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ورځې بے روژې او د شپې د عبادت او نفلونو نه غافِله اونه ليدلو- البته د ماسپخين د لمونځ نه مخكښې به هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لږ شان آرام كولو- (1)

د حضرت ابنِ ابي مُعاذ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه روايت دے، حضرت مِسعَر بن كِدام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير خوش قسمته وو چې د هغوئې وفات د امام اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په جُمات كښې د سجدې په حالت كښې اوشو- (2)

جو بے مثال آپ کا ہے تقویٰ، تو بے مثال آپ کا ہے فتویٰ
ہیں علم و تقویٰ کے آپ سنگم، امامِ اعظم ابو حنیفہ (3)

## د حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا د ورځې شپې جَدوَل

روايت دے چې د حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا معمول وو چې كله به شپه شوه او ټول خلق به اوده شول نو خپل ځان ته به ئې وئيل: اے رابعې! (كيدے شي چې) دا ستا د ژوند آخري شپه وي، كيدے شي چې ستا د سبا لمر

1... مناقبِ الامام اعظم للكردري، صفحه:230 تا 231 بتغير قليل-
2... مناقبِ الامام اعظم للكردري، صفحه:231 -
3... وسائلِ بخشش، صفحه:573-

ليدل نصيب نه شي نو څکه پاڅه او د خپل رَبّ عبادت اوکړه د پاره د دې چې سبا په قيامت کښې ته د شرم سره مخ نه شې، همت اوکړه، اوده کيږه مه، پاڅه او د خپل رَبّ عبادت اوکړه- د دې وئيلو نه پس به [هغه] راپاڅيدله او تر سحره پورې به ئې نفلونه ادا کول- کله چې به ئې د سحر لمونځ ادا کړو نو خپل ځان ته به ئې بيا فرمائيل: **اے زما نفسه! ستا دې مبارک شي چې تيره شپه تا ډيره سخته تيره کړه خو ياد ساته دا ورځ ستا د ژوند آخري ورځ کيدے شي-** دا به ئې چې اووئيل نو بيا به ئې عبادت شروع کړو او کله چې به پرې خوب غَلَبَه اوکړه نو اودريدله به او په کور کښې به په مزه مزه ګرځيدله او د دې سره سره به ئې ځان ته فرمائيل: رابعې! دا هم څه خوب دے، د دې لا هم څه مزه ده؟ دا پريږده او په قبر کښې په سکون سره د اوږدې مودې د پاره اوده شه، نن خو تا له ډير خوب نه دے درغلے خو راتلونکې شپه کښې به درله ډير زيات خوب درځي، همت اوکړه **او خپل رَبّ رضا کړه-** د دغه شان کولو سره هغې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها 50 کاله تير کړل چې نه خو هغې په بستره باندې آرام اوکړو او نه کله هم هغې بالبنت سر ته کيښودو، تر دې پورې چې هغه وفات شوه- (1)

اَللّٰهُ اَكْبَر! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! دې د الله پاک نيکو بنده ګانو به څومره په ښکلې انداز کښې او څومره په ښه استقامت سره خپلې ورځې او شپې په نيکو کښې تيرولې- آه! يو مونږ يو چې شپه مو په غفلت کښې په اودو او ورځ مو د فاني دنيا په کارونو کښې تيريږي، نه د قبر او آخِرت څه فِکر، نه د الله پاک د رضا کولو څه کار---!! بس:

لګا تکيہ گناہوں کا پڑا دِن رات سوتا ہوں

سيدي اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمونږ د ګنهګارانو د خراب حالت نقشه جوړوي او فرمائي:

دِن بھر کھیلوں میں خاک اُڑائی | لاج آئی نہ ذَرّوں کی ہنسی سے
شَب بھر سونے ہی سے غَرَض تھی | تاروں نے ہزار دانت پیسے (2)

**وضاحت:** ذَرّوں کی ہنسی: مطلب د ذرو خندا کول، په لمر کښې د شکې ذرې پرقيږي، اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا ذرې لکه چې زمونږ په خراب حالت پورې خندا کوي، دغه شان: تاروں نے دانت پیسے: مطلب، ستورې د غصې او خفګان اظهار کوي- مطلب دا دے چې آه! مونږه ورځې په لوبو ټوقو او فضول کارونو کښې

---

(1)... حِکایاتُ الصالحین، صفحہ:39 ۔
(2)...حدائقِ بخشش، صفحہ:145۔

تيرې کړې، د شګې وړې وړې ذرې زمونږه په خراب حالت پسې خندا کوي، ټوقې کوي، مونږ له په دې هم څه شرم رانغلے، آه! زمونږه شپې په اوده کيدو سره په غفلت کښې تيرې شوې، ستورې پړقيدل او لکه مونږ له ئې سبق راکولو چې اوګورئ! شپه صرف د اوده کيدو د پاره نه ده، د الله پاک په ياد کښې د تيرولو د پاره ده-

## ورځ او شپه د الله پاک فضل لټوئ!

اے عاشقانِ رَسُول! الله پاک دا ورځې او شپې د دې د پاره نه دي پيدا کړي چې مونږه په دې شپو کښې بس غافله اوده شو او په ورځ کښې بس د دنيا فِکر کوو، دا ورځې او شپې، زمونږه ساه ګانې، د الله پاک راکړے شوې اربونه کهربونه نعمتونه، دا ژوند، د الله پاک د عبادت کولو، په ذِکر او فِکر کښې د مصروفه کيدو او د مرګ نه پس د هميشه والا ژوند د تيارئ د پاره دي- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَ جَعَلْنَا الَّیْلَ وَ النَّهَارَ اٰیَتَیْنِ فَمَحَوْنَاۤ اٰیَةَ الَّیْلِ وَ جَعَلْنَاۤ اٰیَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ

(پاره:15، سورۂ بنی اسرائیل:12)

ترجَمۂ کنزُ العرفان: او مونږه ورځې او شپې دوه نخښې اوګرځولې او بيا مو د شپې نخښه ورَکه کړله او د ورځې نخښه مو ښکاره کړه د پاره د دې چې تاسو د خپل رَبّ فضل اولټوئ-

د دې آيت نه معلومه شوه چې: شپې او ورځې د الله پاک 2 نخښې دي، الله پاک د شپې نخښه تياره جوړه کړه چې په دې کښې هر څيز پټيږي او ورځ ئې ښه روښانه جوړه کړه، ولې ئې جوړه کړه؟ ځکه د پاره د دې چې تاسو د خپل رَبّ فضل اولټوئ! حُجَّةُ الاِسلام امام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: په دې آيت شريف کښې چې د کوم فضل د لټولو حکم دے هغه هم ثواب او بخښنه ده-[1]

لکه چې فرمائيلے شي! مونږه شپه هم د خپل قدرت نخښه جوړه کړه، ورځ مو هم د خپل قدرت نخښه جوړه کړه، ولې؟ د پاره د دې چې تاسو ورځ او شپه نيکئ اوکړئ، جنّت ته د بوتلونکو عملونو په ذريعه د آخِرت عظيم ثواب او د الله پاک بخښنه اولټوئ--!!

نیکیوں میں یَارسولَ اللہ دل لگ جائے کاش! | اور گناہوں سے مجھے ہو جائے نفرت یَارَسول[2]

[1]... احیاء العلوم، کتاب:ترتیب الاوراد، باب:الاول فی فضیلۃ الاوراد، جلد:1، صفحہ:438-
[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:242-

## ورځې او شپې د ذِکر او فِکر او د شُکر د پاره دي

په 19 سیپاره، سورۂ فرقان، آیت: 62 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ اَرَادَ اَنْ يَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا ﴿۶۲﴾<br>(پاره:19 ، سورۂ فرقان:62) | ترجَمۂ کنزُ العرفان: او هغه دے کوم چې شپه او ورځ په یو بَل پسې راتلونکي جوړ کړل (دا) د هغه چا د پاره (ئخبنه) ده څوک چې نصیحت حاصلول غواړي یا څوک چې (د الله) شکر ادا کول غواړي- |

یعني الله پاک شپه او ورځ په یو بَل پسې راتللو والا اوګرځول د پاره د دې چې که چرې په دې کښې د یو وخت څه نیک عمل پاتې شي نو په بَل وخت کښې د هغې اِزاله اوکړے شي، نور په دې آیت شریف کښې دا هم دي چې د ورځې او شپې داسې په یو بَل پسې راتلل د الله پاک د ذِکر، د آخرت په معاملو کښې د غور او فِکر او د الله پاک د شُکر ادا کولو د پاره دي-

| | |
|---|---|
| *کاش لب پر مِرے رہے جاری* | *ذِکر آٹھوں پَہَر ترا یاربّ!*[1] |

## ورځې او شپې د فنا پیغام ورکوي

**اے عاشقانِ رَسُول!** د ورځې او شپې داسې تلل راتلل مونږ له **د فنا پیغام** هم راکوي، هره ورځ لمر د پریوتو د پاره راخیژي، هره شپه ستوري د پریوتو د پاره راخیژي- آه! ډیر زر هغه وخت راتلونکے دے، چې لمر خو به راوخیژي خو مونږه به د دغه لمر د لیدو د پاره په دنیا کښې موجود نه یو، شپه خو به راشي خو په هغه شپه به زمونږه د پاره نرمه بستره نه غوړولے کیږي، آه! مونږ به په قبر کښې په خاوره باندې ملاست یو-

| | |
|---|---|
| *غافِل تجھے گھڑیال یہ دیتا ہے منادی* | *قدرت نے گھڑی عمر کی اک اور گھٹادی* |

**وضاحت:** اے د خپل انجام او مرګ نه غافله انسانه! لږ په غور سره واوره دا د ګهړئ نه راتلونکے د ټَک ټَک آواز اعلان کوي: چې ستا د عمر سیکنډ کم شو، اوس پوره منټ تیر شو، اوس پوره ګهنټه کمه شوه-

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:79-

## ډیر زر به تاسو قبر ته کوز کړے شئ

صحابئ رسول حضرت ابو درداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: اے د آدم اولاده! زمکه په خپلو خپو باندې اوغورځوئ! ډیر زر به تاسو دې ته دننه کوزولے شي- اے د آدم اولاده! ستاسو ژوند څه دے؟ دا د ورځو مجموعه خو ده- کله چې یوه ورځ تیره شي، ستاسو د ژوند یوه حِصَّه کمه شي، بے شکه د کله نه چې تاسو پیدا شوي ئیئ، ستاسو ژوند پرله پسې کمیږي- (1)

## د مؤمِن نصیحت

حضرت عبید الله بن سُمَیط رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: ما د خپل والِد محترم نه دا واوریدل: مؤمِن بنده خپل ځان داسې پوهه کوي: اے نفسه! دا د دنیا او فاني ژوند خو صِرف د 3 ورځو دے، یوه ورځ تیره شوه، دویمه هغه کومه چې تیریږي، پوهه شئ چې بس دا هم تیره شوه او دریمه ورځ **راتلونکې ورځ** ده او هغه خو یو خالي اُمید دے کوم چې کیدے شي ته بیا نه مومې، فرض کړه که چرې ته تر سبا پورې ژوندے پاتې شوې نو سبانئ ورځ به ستا رِزق او پته نه لګي چې د څومره خلقو د پاره د مرګ پیغام د ځان سره راوړي، کیدے شي چې ته هم په هغوئي کښې شامل شې چاته چې د مرګ پیغام میلاویدونکے دے، بیا که چرته نور ژوند میلاؤ شو نو ستا په کمزوري زړه باندې به د غریبئ، بیمارئ او آفتونو غم مسلط وي، چې کله ستا دومره ډیر د دنیا غمونه وي نو ستا زړه به د آخِرت فِکر ته څه پام اوکړي؟ یاد ساته! هره تیره ورځ ستا عمر کموي، خو ستا هیڅ پرواه نشته، هغه ګس به د آخِرت د پاره څه تیارے اوکړي د چا د دنیا خواهشونه چې هم نه پوره کیږي؟ څومره نادانه او عجیبه دے هغه مسلمان د چا چې یقین دے چې دا دنیا فاني ده، آخِرت باقي پاتې کیدونکے دے، بیا هم د باقي پاتې کیدونکي ژوند پریښودو سره د فاني ژوند نور بهتره کولو په غم کښې ډوب پروت دے- (2)

آخرت کی فِکر کرنی ہے ضرور
زِندگی اک دِن گزرنی ہے ضرور

جیسی کرنی ویسی بھرنی ہے ضرور
قبر میں میت اترنی ہے ضرور

ایک دِن مرنا ہے آخر موت ہے
کر لے جو کرنا ہے آخر موت ہے

---

1... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب: کلام اللیالی والایام، جلد: 8، صفحہ: 336-

2... عیون الحکایات، صفحہ: 364 ملخصًا-

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** خبره واقعي چې ربنتوني ده، مونږه د دنيا فِکرونو داسې راګير کړي يو چې د آخِرت د فِکر د پاره راسره خو هډو وخت نه ميلاويږي، هر وخت بس د دنيا د ګټلو فِکر دے، د جنّت د ګټلو، د آخِرت غوره کولو او د قبر د روښانه کولو خو هډو سوچ نه کوو!! آه! دا غفلت--!! لږ تصور خو اوکړئ! دا دنيا د څومره سعت د پاره ده- څه پته، ننئ دا شپه زمونږه د ژوند آخري شپه شي، څه پته، په بَله لحظه کښې حضرت مَلکُ المَوت عَلَيۡهِ السَّلَام تشريف راوړي او زمونږه د سحر لمر ليدل هم نصيب نه شي--!!

هسې هم که چرې مونږه سل کاله ژوند هم تير کړو، آخِر يو نه يو ورځ خو به مړه کيدل، د دې دنيا پريښودل، څه چې مو ګټلي دي دا هر څه پريښودل او قبر ته کوزيدل او د خپلو کړو حساب ورکول وي-

گر جہاں میں سو برس تُو جی بھی لے
قبر روزانہ یہ کرتی ہے پکار
یاد رکھ! میں ہوں اندھیری کوٹھڑی
میرے اندر تُو اکیلا آئے گا
گھپ اندھیری قبر میں جب جائے گا
کام مال و زر نہیں کچھ آئے گا

قبر میں تنہا قیامت تک رہے
مجھ میں ہیں کیڑے مکوڑے بیشمار
تجھ کو ہو گی مجھ میں سُن! وحشت بڑی
ہاں! مگر اعمال لیتا آئے گا
بے عمل! بے انتہا گھبرائے گا
غافل انساں! یاد رکھ پچھتائے گا

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هره ورځ عمر کميږي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ډير پوهه او هوښيار هغه ګس دے څوک چې د غفلت څادر لرې کړي او د قبر او آخرت په تيارئ کښې مصروفه شي- حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ چې به کله د خلقو سره کښيناستلو نو فرمائيل به ئې: اے خلقو! د شپو او ورځو تيريدو سره سره ستاسو عمرونه هم کميږي- ستاسو عملونه محفوظ کولے شي- مرګ به ناڅاپه راځي او څوک چې د ګناه فصل کَري هغه به ورته د پښيمانئ سره رِيبل وي- هر يو به خپل کرلے شوے فصل ريبي- (1)

[1]... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب: کلام اللیالی والایام، جلد: 8، صفحہ: 332-

## ورځې 3 دي

حضرت سفيان بن عُيَينَه رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: ورځې 3 دي: (1): يوه هغه ورځ کومه چې تيره شوه، هغه تاسو ته حکمت او اَدَب ښودلو والا ده، (هغه ورځ تيره شوه، اوس) په دې کښې ستاسو د پاره صِرف نصيحت او عبرت پاتې دے (2): دويمه ننۍ ورځ ده، دا ستاسو سره ميلمنه ده، زر به رخُصت شي، بيا به چرې هم واپس نه راګرځي (3): دريمه ورځ راتلونکې ورځ ده، تاسو ته پته نشته چې سبا به څوک ويني-[1]

## هره ورځ دا غږ کوي---!!

امام ابنِ ابي الدُّنيا رَحمَةُ اللهِ عَلَيه ليکي: هره ورځ دا غږ کوي: (اے خلقو!) زه نوې ورځ يم او زه په تاسو باندې ګواه يم، اے د آدم اولاده! زه به بيرته نه راګرځم- ځکه نن نيک عملونه اوکړئ---!! دغه شان هره نوې شپه دا وائي: اے د آدم اولاده! نن شپه نيک عملونه اوکړئ! زه به بيرته چرې هم واپس نه راګرځم-[2]

## ورځې او شپې خزانې دي

ولِي کامِل حضرت مالِک بن دينار رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: بے شکه دا ورځې او شپې 2 خزانې دي، بس غور اوکړئ چې دا خزانې کوم ځائے لګوئ؟[3]

## ورځې او شپې 2 ميلمانه دي

امام حسن بصري رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: اے د آدم اولاده! دا ورځې او شپې ستاسو سره ميلمنې دي، ډيرې زر به دا ستاسو د ستائينې کولو يا تاسو ته د ردو بدو وئيلو سره رُخصت شي-[4]

## آه! زما د ژوند يوه ورځ کمه شوه

د حضرت مُفَضَّل بن يُونُس رَحمَةُ اللهِ عَلَيه دا معمول مبارک وو: چې کله به شپه شوه نو فرمائيل به ئې: آه! زما د ژوند يوه ورځ کمه شوه- چې کله به سحر شو نو فرمائيل به ئې: آه! زما د ژوند يوه شپه کمه شوه- کله چې د هغوئي آخِري

---

1... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب: کلام اللیالی والایام، جلد: 8، صفحہ: 334۔
2... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب: کلام اللیالی والایام، جلد: 8، صفحہ: 333، ملتقطاً۔
3... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب: کلام اللیالی والایام، جلد: 8، صفحہ: 336۔
4... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب: کلام اللیالی والایام، جلد: 8، صفحہ: 336۔

وخت راغلے نو هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په ژړا شول، بیا ئې اوفرمائیل: ماته پته ده چې په ما باندې د آفتونو نه ډکه ورځ راتلونکې ده، آه! هغه ورځ به ډیره د غم والا وي، بے شکه هغه رښتونے خدائے دے، چا چې د خپل مخلوق د پاره د مرګ فیصله اوفرمائیله، بیا هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د 29 سیپارې د سورۀ مُلک دا آیت شریف تلاوت اوفرمائیلو:

| | |
|---|---|
| الَّذِیۡ خَلَقَ الۡمَوۡتَ وَ الۡحَیٰوۃَ لِیَبۡلُوَکُمۡ اَیُّکُمۡ اَحۡسَنُ عَمَلًا ؕ<br>(پاره:29، سورۀ ملک:2) | ترجَمۂ کنزُ العرفان: هغه کوم چې مرګ او ژوند پیدا کړو د پاره د دې چې په تاسو ازمیښت اوکړي چې په تاسو کښې څوک زیات ښه عملونو کولو والا دے- |

د دې لوستلو نه پس هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه یوه آخري ساه واخسته او د دنیا نه رخصت شو- [1]

## هوښیار څوک---؟

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اَلۡكَيِّسُ مَنۡ دَانَ نَفۡسَهٗ وَعَمِلَ لِمَا بَعۡدَ الۡمَوۡتِ یعني هوښیار هغه دے څوک چې خپل احتساب اوکړي (یعني د خپلو عملونو جاج واخلي) او د مرګ نه پس (والا ژوند) د پاره عَمَل اوکړي- [2]

## د ورځو او شپو جَدوَل څنګه جوړ کړے شي---؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا یو حقیقت دے، چې زمونږه یوه یوه ساه قیمتي ده، یوه یوه لحظه نایابه ده، هوښیار هغه دے څوک چې خپلې ورځې او شپې ډیرې په احتیاط سره، په سوچ او فِکر سره په نیکو کولو کښې تیرې کړي- الله پاک دې زمونږه د آخِرت فِکر نصیب کړي- مونږ له پکار دي چې مونږه د خپلو ورځو او شپو جَدوَل جوړ کړو، په کوم کښې چې د دنیا جائز او ضروري کارونه هم وي او د دې سره سره د ورځې او شپې یوه ډیره غټه حِصه د آخرت د پاره، د نیک کارونو د پاره هم اوساتو- شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه فرمائي: کوشش کوئ چې سحر د راپاڅیدو نه واخله تر د اوده کیدو پورې د ټولو کارونو وختونه ټاکلے شوي وي مثلاً په دومره بجو به تهجد، علمي مشغلې، په جُمات کښې د تکبیرِ اُولیٰ سره د جَمعې سره د سحر لمونځ (دغه شان نور لمونځونه هم) اشراق، ساخت، د سحر چائے، د کټې وَتې،

1... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب:کلام اللیالی والایام، جلد:8، صفحہ:337 ـ
2... ترمذی، ابواب صفۃ القیامۃ والرقائق والورع، صفحہ:583، حدیث:2459ـ

د ماسپخين ډوډۍ، کورنۍ معاملې، د ماښام مشغلې، ښه صحبت، (که چرې دا نه وي نو ځانله ناسته ډېره بهتره ده)، د اسلامي ورونړو سره د ديني ضرورتونو لاندې ملاقات وغيره اوټاکلے شي څوک چې د دې عادت نه لري د هغوئي د پاره کيدے شي چې په شروع کښې ستونزې رامخې ته شي- بيا چې کله عادت شي نو د دې برکتونه به هم ښکاره ظاهر شي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! (1)

دن لَہو میں کھونا تُجھے شب صُبح تک سونا تجھے
شرمِ نبی، خوفِ خدا یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں
رِزقِ خدا کھایا کیا فرمانِ حق ٹالا کیا
شکرِ کرم ترسِ سزا یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں(2)

**وضاحت**: اے غافِله نفسه---!! ورځ په فضولو څيزونو کښې تيروې، د شپې د غفلت په خوب اوده ئې، آه! نه دې دا سوچ اوکړو چې د قيامت په ورځ به د رَبِّ کريم په بارګاه کښې څنګه وړاندې کيږم، نه دا شرم درځې چې د خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره به څنګه مخامخ کيږم- د الله پاک درکړے شوے رِزق خورې خو د هغه د فرمان نه ډېره کوې- نافرمانئ کوې، نه د هغه په شوي کرم شکر ادا کوې، نه ستا سره د قيامت د ورځې د سزا ويره شته-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د هر چا مصروفيات بيل بيل وي، ځکه هر يو له پکار دي چې د خپلو حالاتو، مصروفياتو وغيره مطابق خپل جَدوَل جوړ کړي، البته! مونږ د خپلو د دنيا د مصروفياتو سره سره د زياتو نه زياته تياري څنګه کولے شو؟ په دې باره کښې يو څو مدني ګلونه ستاسو په خدمت کښې وړاندې کولے شي:

## (1): د جَمعې سره د لمونځ کولو اهتمام اوکړئ!

وړومبے مدني ګل دا دے چې لمونځونه په جُمات کښې د جَمعې سره د ادا کولو معمول جوړ کړئ! لمونځ اَوَّلين فرض دے، اعلیٰ حضرت امام اهلسنت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: لمونځ اَوَّل شريعت دے- (3) يعني چې

1... انمول ہیرے، صفحہ:21تا22-
2... وسائلِ بخشش، صفحہ:111-
3... فتاویٰ رضویہ، جلد:5، صفحہ:83ملتقطاً-

په خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې کله وړومبئ وحي نازِله شوله، د هغې نه پس د ټولو نه مخکښې چې د کوم فرض عبادت حکم اوکړے شو، هغه لمونځ دے-

په حديثِ پاک کښې دي: د الله پاک خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: لمونځ د دين ستَن ده نو چا چې دا پريښودو د هغه هيڅ دين نشته-[1]

الله پاک دې مونږه د لمونځونو د قضا کولو نه بچ کړي-

| | |
|---|---|
| میں پانچوں نَمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی! |
| میں پڑھتا رہوں سُنّتیں، وقْت ہی پر | ہوں سارے نوافِل ادا یاالٰہی![2] |

اے عاشقانِ رَسُول! د خپل امروزه په معمول کښې پينځه وخته لمونځونه د جَمعې سره ادا کولو ته وړومبئ درجه ورکړئ! د ټولو نه مخکښې لمونځ، بيا نور کارونه- چې دا کوئ نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! دنيا به مو هم ښه شي او آخِرت به مو هم ښه شي-

## د جَمعې سره د لمونځ کولو ثواب

امام فقيه ابو اللَّيث سمر قندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د (تابعي بزرګ) حضرت کعبُ الاحبار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه نقل کړل چې هغوئي اوفرمائيل: چې ما په **تورات** کښې په يو ځائے کښې اولوستل (الله پاک فرمائي): اے موسىٰ! د سحر 2 رکعتونه به احمد (دلته د احمد نه مراد د الله پاک آخري نبي، حضور مکي مدني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے) او د هغوئي اُمت ادا کوي، خوک چې دا ادا کوي د هغوئي د هغې ورځې او شپې ګناهونه به اوبخښم او هغوئي به زما په ذِمه کښې وي- اے موسىٰ! د ماسپخين 4 رکعته به احمد [صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] او د هغوئي اُمت ادا کوي هغوئي به د وړومبي رَکعت په بدله کښې اوبخښم او د دويم په بدله کښې به د هغوئي (د نيکو) تَله درَنه کړم او د دريم د پاره به فرښتې يعني مقررې کړم چې تسبيح (يعني د الله پاک پاکي) به بيانوي او د هغوئي د پاره به د بخښنې دعاګانې کوي او د څلورم په بدله کښې به د هغوئي د پاره د آسمان دروازې فراخه کړم، غټې غټې سترګو والا حورې به هغوئي ته په ليوالتيا سره ګوري- اے موسىٰ! د مازيګر 4 رکعتونه چې به احمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمت ادا کوي نو په اووه واړو آسمانونو او زمکو کښې به يوه فرښته باقي پاتې نه وي، ټولې به د هغوئي بخښنه غواړي او فرښتې چې د چا د پاره

---

1... شعب الایمان، باب فی الصلوات، جلد:3، صفحہ:39، حدیث:2807بتغیر۔
2... وسائلِ بخشش، صفحہ:102۔

بخښنه اوغواړي هغوئي له به هيڅکله هم زه عذاب ورنکړم- اے موسیٰ! د ماښام 3 رکعته دي، دا چې به احمد (صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمت ادا کوي (نو) د آسمان ټولې دروازې به د هغوئي د پاره برسيره کړم، د کوم حاجت سوال چې کوي هغه به پوره کړم- اے موسیٰ! د ماسخوتن 4 رکعتونه دي، دا چې به احمد (صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمت ادا کوي نو د هغوئي د پاره د دنيا او د هر څه نه بهتر دي، هغوئي به دا د ګناهونو نه داسې اوباسي، لکه څنګه چې د مور د ګيډو نه زيږيدلي وي- اے موسیٰ! کله چې احمد (صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمت اودس کوي نو د هر څاڅکي په بدله به ورته داسې جنت ورکووم کوم چې به د زمکې او آسمان همره پلَن وي-[1]

## د جَمعې سره فرض لمونځ په يو نظر کښې

❁ فرض لمونځ د جَمعې سره په ادا کولو کښې د الله پاک او د رسولِ کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حکم باندې عمل دے ❁ د ايمان والا کيدو ګواهي ده ❁ الله پاک د جَمعې سره لمونځ کوونکي خوښوي ❁ د جَمعې سره لمونځ د ځانله لمونځ کولو نه 27 درجې افضل دے ❁ الله پاک او د هغه فرښتې د جَمعې سره په لمونځ کوونکو باندې دُرُود ليږي ❁ د جَمعې سره د ماسخوتن لمونځ ادا کول لکه د نيمې شپې قيام (يعني عبادت) کول دي ❁ د سحر لمونځ د جَمعې سره ادا کول لکه ټوله شپه قيام (يعني عبادت) کول دي ❁ د جَمعې سره لمونځ کوونکے به په پلِ صراط د ټولو نه مخکښې د بجلۍ په شان تيريږي ❁ د جَمعې سره د لمونځ ادا کوونکو شان او شوکت چې اووينې نو د محشر والا به رشک کوي ❁ د هغوئي ګناهونه به بخښلے شي ❁ جُمات ته راتلونکي ته به د هر قدم په بدله ثواب ميلاويږي ❁ په هر قدم باندې به ئې يوه درجه اوچتيږي او ❁ يوه ګناه به ورله ورانولے شي ❁ الله کريم به د ده د پاره سحر او ماښام په جنت کښې د ميلمستيا ترتيب کوي ❁ د لمونځ د پاره اوچتيدونکے هر قدم صدقه ده ❁ تر څو پورې چې بنده د لمونځ انتظار کوي، په خير باندې به وي، د الله پاک په حفاظت کښې به وي او د شيطان نه به محفوظ وي ❁ د قيامت په ورځ به ئې د عرش سورے نصيب کيږي ❁ د دوزخ، منافقت او غفلت نه به ئې خلاصے نصيب کيږي ❁ په خپل مينځ کښې به ئې محبت زياتيږي ❁ د جَمعې سره د لمونځ تکبيرِ اُولیٰ موندل د 100 اوښو نه بهتر دے-[2]

## (2): د لمونځونو وختونه په ترتيب سره تيروئ!

ورځې شپې څنګه تيرول دي؟ په دې تعلق سره دويم مدني ګل: دا دے چې په لمونځ ادا کولو کښې خومره وخت تيريږي، دا وخت د پوره ترتيب سره، په پوره منصوبه بندۍ سره تير کړئ! مونږ چې کله د لمونځ د پاره د کور يا دُکان

---

1... فتاوىٰ رضويه، جلد:5، صفحه:52 تا54 -
2... فيضانِ نماز، صفحه:139-

نه روانيږو، د هغه وخت نه تر کور يا دُکان ته د واپس راتلو پورې به کم او زيات د 15 نه تر 20 منټه يا نيمه ګهنټه لګي- دا چې کوم د 15 نه 20 منټه دي، دا د پوره منصوبه بندئ سره تيرول پکار دي- دلته څه کيږي؟ جُمات ته چې کله د اودس کولو ځائے ته اورسي نو موبائل په جيب کښې واچوي، زر زر اودس اوکړي، د اودس اوبه د جُمات په فرش باندې څڅوي او بيا ئې چې څنګه لمونځ اوکړو، د جُمات نه چې اووځي نو بيا موبائل په لاس کښې---!! په قلاره قلاره، لاسونه خوزوي، په مختلفو سوچونو کښې ډوب وي يا که څوک دوست ورسره وي نو د هغه سره خبرې کوي او واپس راشي-

داسې مه کوئ- لمونځ د پوره ترتيب سره ادا کوئ- دا د 15 نه 20 منټه يا نيمه ګهنټه مونږه د لمونځ د پاره اوباسو، دا هم زمونږه د ژوند حِصه ده بلکه که اوکتلے شي نو دا د ژوند د ټولو نه قيمتي حصه ده چې په دغه وخت مونږه د خپل الله پاک په حُضور کښې حاضريږو، ځکه دا وخت د پوره فِکر کولو سره تيرول پکار دي- څنګه تيرول دي؟

## لمونځ په ترتيب سره د ادا کولو طريقه

❀ کله چې د کور يا دُکان نه روان شئ، هغه وخت ښه ښه نيتونه اوکړئ! مثلاً په لاره کښې به ذِکر او دُرُود لولم او ځم به، مسلمانانو ته به سلام کووم، نظر به ښکته ساتم، د ګرځيدو د سُنَّتو خيال به ساتم او ځم به وغيره ❀ اوس په دې دريو واړو باندې عمل کوئ او جُمات ته ځئ! ❀ که اودس مو په کور کښې کړے وي نو بهتر دے، ګنې اوس په جُمات کښې اودس اوکړئ! ❀ د اودس د آدابو خيال اوساتئ! د اودس کولو 14سُنَّت دي، په دې 14 سُنَّتو باندې لازمي عمل اوکړئ! ❀ چې د اودس د اوبو څاڅکي د جُمات په فرش نه غورځيږي، دې د پاره د اوداسه په ځائے کښې اندامونه صفا کړئ! آؤ! لږ شان لوند والے پريږدئ ځکه چې دا لوند والے به د قيامت په ورځ په تَله کښې کيښودے شي ❀ اوس جُمات ته اورسيدئ، که چرې وخت وي نو د تحية المسجد او تحية الوُضُو نفلونه ادا کړئ! (خو ياد ساتئ! چې دا نفلونه د سحر او د ماښام د اذان نه پس نشئ ادا کولے) ❀ يا که اوغواړئ نو د سُنتِ قبليه (يعني د فرضو نه مخکښې والا سُنَّتو) کښې د تحية المسجد او تحية الوُضُو نيت اوکړئ! ❀ اوس د جَمعې په انتظار کښې کښيناستل دي، يقين اوکړئ! د لمونځ په انتظار کښې کښيناستل هم د فائدې نه خالي نه دي-

## د قيامت په ورځ پرقيدونکي، روښانه مخونه

کله چې به د قيامت ورځ وي نو د قبرونو نه به يوه داسې ډله راپاځي د کومو مخونه چې به د پرقيدونکي ستوري په شان وي، فرښتې به هغوئي ته اووائي چې ستاسو عملونه څه وو؟ هغوئي به جواب ورکوي چې کله به مونږ اذان

واوريدو نو د اودس د پاره به اودريدلو او په بَل يو کار کښې به نه مشغوليدو- بيا به يوه داسې ډَله راشي د کومو مخونه چې به د سپوږمۍ په شان ځليږي، هغوئي به د فرښتو د پوښتنې نه پس وائي چې مونږه به د وخت نه مخکښې اودس کولو، بيا به يوه داسې ډله راشي د کومو مخونه چې به د لمر په شان ځليږي او هغوئي به وائي چې مونږه به اذان په جُمات کښې اوريدلو (يعني د اذان نه مخکښې به جُمات ته رسيدلو)- [1]

اے عاشقانِ رَسُول! کوشش کوئ! دومره زر راشئ چې د جَمعې د وخت نه يو دوه منټه مخکښې د سُنَّتو وغيره نه فارغ شئ، په دغه يو دوه منټه کښې سترګې پټې کړئ او لږ وخت غور او فِکر اوکړئ! ✿ په اَصل کښې مونږه په مختلفو کارونو کښې مصروفه شو، دغه شان راپاڅيدو او د لمونځ د پاره روان شو، په لاره کښې خبرې کوو، مختلفو څيزونو ته ګورو او جُمات ته لاړ شو، دا هر څه زمونږه په ذِهن کښې وي، مونږ چې څنګه راشو نو لمونځ شروع کړو نو دا هر څه زمونږ په ذِهن کښې روان وي، دا سوچونه د دِماغو نه لرې کول پکار دي، ځکه يو دوه منټه کښينئ او سترګې پټې کړئ او د قبر او آخرت، د حشر، د پل صراط، د ميزان وغيره تصور اوکړئ! ✿ اوس د جَمعې وخت شو، د جَمعې سره د لمونځ کولو سعادت حاصل کړئ- د لمونځ نه چې فارغ شئ نو فوراً مه پاڅئ او ځئ، بلکه د څه وخته پورې په جُمات کښې کښينئ-

## د هر لمونځ نه پس 4 کارونه کوئ!

امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د هر لمونځ نه پس 4 کارونه کول پکار دي: **(1)**: تلاوت کوئ **(2)**: ذِکر اَذکار کوئ **(3)**: غور او فِکر کوئ **(4)**: دُعا کوئ- [2]

په ذِهن کښې به راځي چې په دې څلورو کارونو کولو خو به ډير وخت لګي- آؤ جي! که چرې ستاسو سره وخت شته نو وخت اولګوئ او که چرې وخت کم دے نو بيا هم ګرانه نه ده، دا څلور کارونه په 5 منټه کښې هم کيدے شي، مثلاً صرف د 3 آيتونو تلاوت کوئ، دغه شان به په تلاوت کولو کيدے شي چې يو منټ اولګي، وړه شان وظيفه اولولئ، تسبيح فاطمه [يعني 33 ځل سُبۡحٰنَ اللّٰه ، 33 ځل اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه، او 34 ځل اَللّٰہُ اَکۡبَر] اولولئ يا ستاسو د پير صاحب د طرف نه چې کوم اَوراد او وظيفې درکړے شوي دي، د يو نه تر يو نيم منټه پورې هغه اولولئ، بيا صِرف د يو منټ د پاره سترګې پټې کړئ او د قبر او آخرت، مرګ، د قيامت په ورځ د راپاڅيدو، د الله پاک په دربار

---

1… تفسير روح البيان ، پاره:18، سورة النور، تحت الآية :38، جلد:6، صفحه:161-

2… احياء العلوم، کتاب:ترتيب الاوراد، باب:الاول في فضيلة الاوراد، جلد:1، صفحه:447-

کښېږ د حاضریدو تصور اوکړئ! په آخِره کښې دُعا اوکړئ! نو داسې به دا څلور واړه کارونه اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په 5 منټو کښې پوره شي، دا څلور واړه کارونه (تِلاوت، ذِکر اَذکار، غور او فِکر او دُعا) د هر لمونځ نه پس د کولو کوشش کوئ۔

چې مونږه په دې انداز کښې لمونځ ادا کوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! داسې لمونځ به زمونږه په زړه باندې اثر کوي، که چرې الله پاک اوغوښتل نو پر زوره کیفیت به جوړ شي خو کیدے شي چې د جُمات نه ووځئ، په خپلو کارونو کښې مصروفه شئ نو دا کیفیت به ختم شي خو کوشش اوکړئ او د څه وخت د پاره 5 یا 10 منټه دا کیفیت په خپل ځان باندې اوساتئ، هغه څنګه؟ ❀ د لمونځ کولو نه پس کور یا دُکان وغیره ته د تللو په وخت، ذِکر او دُرُود جاري اوساتئ ❀ د لږ وخت د پاره د څه نعتونو والا یا د دعا والا شعرونه په مزه آواز کښې په طرز کښې وائیئ (په وسائلِ بخشش کښې به د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ ډیر آسان شعرونه میلاؤ شي، هره ورځ یو څو شعرونه ګورئ! مثلاً دا شعر)

| | |
|---|---|
| خدایا! بُرے خاتمے سے بچانا | پڑھوں کلمہ جب نکلے دَم یاالٰہی![1] |

داسې څه د نعتونو، یا د دعا والا شعرونه واخلئ او د لمونځ نه پس ئې د څه وخته پورې په مزه مزه په طرز کښې وائیئ ❀ د راتلونکي لمونځ وخت اوګورئ، مثلاً د ماسپخین لمونځ مو کړے دے او راغلي ئیئ، نو د ***Prayer Time*** اپلي کیشن په ذریعه د مازیګر د لمونځ وخت اوګورئ چې کله به شروع کیږي، **زه به د مازیګر د لمونځ د پاره کله ځم** دا ذِهن جوړ کړئ، د مازیګر د لمونځ د پاره د تللو په وخت به د څه لوستو سره ځم، دا سوچ اوکړئ، داسې د لمونځ نه پس هم که زیات نه وي نو کم نه کم د 5 نه تر 10 منټو پورې به په داسې کارونو کښې مصروفه ئیئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د لمونځ والا کیفیت به په زړه باندې خور وي۔

دا جَدوَل مې د مثال په طور عرض کړو، بهر حال! د لمونځ د پاره د تللو نه تر د بیرته راتلو پورې چې کوم وخت دے، دا وخت خو هسې هم لګي، لمونځ فرض دے، مونږ ته به خامخا ادا کول وي، ځکه که چرې دا وخت مونږه داسې په منصوبه بندئ سره تیر کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په دغه وخت کښې به د ډیرو زیاتو نیکو په ګټلو کښې کامیاب شو۔

| | |
|---|---|
| میں ساتھ جماعت کے پڑھوں ساری نمازیں | اللہ! عبادت میں مِرے دل کو لگا دے[1] |

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:110۔

## (3): د ورځې وړومبے او آخري وخت په نيکو کښې تير کړئ!

د ورځې او د شپې د جَدوَل جوړولو په باره کښې دريم مدني ګل: دا دے چې د ورځې وړومبے او آخري وخت د نيک کارونو د پاره وقف کړئ! ځکه چې دا وختونه ډير د برکت او د ډير اهميت والا دي- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَسُبۡحٰنَ اللّٰهِ حِیۡنَ تُمۡسُوۡنَ وَ حِیۡنَ تُصۡبِحُوۡنَ ﴿۱۷﴾ (پاره:21 ، سورۀ روم:17) | ترجَمۀ کنزُ العرفان: نو د الله پاک پاکي بيانوئ کله چې ماښام کوئ او کله چې سحر کوئ- |

په يو بَل ځائے کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ سَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوۡعِ الشَّمۡسِ وَ قَبۡلَ غُرُوۡبِهَا ۚ (پاره:16، سورۀ طٰہٰ:130) | ترجَمۀ کنزُ العرفان: او د لمر راختو نه مخکښې او د ده د پريوتو نه مخکښې د خپل رَبّ د حمد سره د هغه پاکي بيانوئ- |

په 13 سيپاره، سورۀ رَعد کښې د الله پاک ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنۡۢ بَیۡنِ یَدَیۡهِ وَ مِنۡ خَلۡفِهٖ یَحۡفَظُوۡنَهٗ مِنۡ اَمۡرِ اللّٰهِ ؕ (پاره:13، سورۀ رعد:11) | ترجَمۀ کنزُ العرفان: د انسان د پاره د هغه نه مخکښې او د هغه نه وروستو په بدليدو بدليدو سره په نمبر نمبر راتلونکې فرښتې دي کومې چې د الله په حکم سره د هغه ساتنه کوي- |

په **تفسيرِ صراطِ الجنان** کښې د دې آيت شريف د لاندې دي: د جمهور مفسرينو په نز د دې فرښتو نه په ورځ او شپه کښې حفاظت کوونکې فرښتې مُراد دي، دوئي ته د بدليدو بدليدو سره په نمبر نمبر راتلونکې ځکه وئيلے شوي دي چې کله د شپې فرښتې راشي نو د ورځې فرښتې لاړې شي او د ورځې فرښتې چې راشي نو د شپې فرښتې راشي-[(2)]

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:114-
[2]... تفسيرِ کبير، پاره:13، سورۀ رعد، زيرِ آيت:11، جلد:7، صفحه:17-

د فرښتو دا بدليدل د سحر او د مازيګر د لمونځونو په وختونو کښې کيږي او کوم خلق چې دا دواړه لمونځونه ادا کوي هغوئي ته دا فائده حاصليږي چې د فرښتو د بدليدو په وخت هغوئي د لمونځ په حالت کښې وي، هم دغسې د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، چې خوږ آقا، د مديني والا مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د شپې او ورځې فرښتې په تاسو باندې نمبر په نمبر راځي او د سحر په لمونځ او د مازيګر په لمونځ کښې يو ځائے کيږي بيا چې کومې ستاسو خوا له راغلې وي هغوئي بره خيژي نو د هغوئي رَبّ د هغوئي نه پوښتنه کوي حالانکه هغه په دوئي ښه پوهيږي چې دوئي زما بنده ګان په کوم حالت کښې پريښودل؟ فرښتې عرض کوي **مونږه چې هغوئي پريښودل نو هغوئي لمونځ کولو او کله چې مونږ د هغوئي خوا له لاړو نو بيا هم هغوئي لمونځ کولو۔** (1)

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! د سحر او مازيګر دا وختونه څومره د برکت والا دي۔ ځکه دا دواړه وختونه په نيک کارونو کښې تيروئ!

## د سحر وخت ښنګه تير کړے شي؟

❁ کوشش کوئ چې د سحر د لمونځ د وخت شروع کيدو نه کم نه کم نيمه ګهنټه مخکښې (يعني د پيشمني په وخت) راپاځئ، د تهجدو لمونځ ادا کړئ ❁ په ذِکر او دُرُود کښې مصروفه شئ، په دغه وخت کښې د درودِ پاک په لوستلو، خاص طور د اِستِغفَار (مثلاً اَسْتَغْفِرُ الله!) په وئيلو کښې ډير برکتونه دي۔

## په رِزق کښې د برکت نُسخه

يو صحابي (رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ) د رسول الله (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ) په خِدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَا رسولَ الله (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)! دُنيا زما نه مخ اړولے دے، خوږ آقا، د مديني والا مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آيا هغه تسبيح تاته ياده نه ده؟ کومه تسبيح چې د فرښتو ده او د کومې په برکت چې رِزق ورکولے شي، خلقِ دنيا به ستا خوا له د ذليليدو او خواريدو سره راځي، د لمر د راختلو سره 100 ځل اووايه سُبْحٰنَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحٰنَ اللهِ الْعَظِيْمِ وَ بِحَمْدِهٖ اَسْتَغْفِرُ الله د هغه صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ 7 ورځې تيرې شوې وې چې د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَا رسولَ الله (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)! دنيا زما خوا له دومره ډيره راغلې ده، زه حيران يم چې چرته ئې اوچته کړم او چرته ئې کيږدم! (2)

---

1...بخاری، کتاب:مواقیت الصلاۃ، باب:فضل صلاۃ العصر، صفحہ:205، حدیث:555۔
2...لسان المیزان، حرف العین، جلد:4، صفحہ:304، حدیث:5100، ملفوظات اعلیٰ حضرت، صفحہ:128۔

الله پاک د نيکانو خلقو دا صِفت بيان کړے دے:

وَ بِالۡاَسۡحَارِ هُمۡ یَسۡتَغۡفِرُوۡنَ ﴿۱۸﴾
(پاره:26، سورۂ ذاريات:18)

ترجَمۂ کنزُ العرفان: او د شپې په آخري حصو کښې به ئې بخښنه غوښتله۔

❁ د سحر د اذان جواب ورکوئ! ❁ بهتره دا ده چې د سحر سُنَّت په کور کښې ادا کړئ، کښې بيا جُمات ته تشريف يوسئ! ❁ جُمات ته د تللو په وخت د ثواب په نيت سره مسلمانان ورونړه د لمونځ د پاره راپاڅوئ ❁ د سحر لمونځ د جَمعې سره ادا کوئ ❁ که الله پاک توفيق درکړې نو د تفسير اوريدو او اورولو په حلقه کښې شرکت کوئ ❁ بيا اَوراد او وظيفې اولولئ ❁ د خپل پير صاحِب درکړے شوې شجره شريف اولولئ، تلاوت کوئ، ديني کتاب (مثلاً فيضانِ سُنَّت، فيضانِ نماز، غيبت کی تباه کاریاں وغيره) اولولئ، غرض: د اشراق او ساخت د وخت پورې په ذِکر او فِکر او نيک کارونو کښې مصروفه اوسئ ❁ تر دې پورې چې د اشراق د لمونځ وخت شي نو د اِشراق، ساخت نفلونه اوکړئ او کور ته لاړ شئ۔ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیم! د ورځ په اولني وخت کښې به د نيکو ډيرے جوړ شي۔

## اشراق او ساخت

**(1)**: سرورِ کائنات، فخرِ موجودات صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اشراق د لمونځ فضيلت بيانوي او فرمائي: څوک چې د سحر لمونځ د جَمعې سره ادا کړي او د الله ذِکر کوي تر دې پورې چې لمر پوره راوخيژي بيا 2 رکعته اوکړي نو هغه ته به د پوره حج او عمرې ثواب ميلاويږي۔ [1] **(2)**: د ابو داؤد شريف په روايت کښې دي: څوک چې د سحر د لمونځ نه د فارغيدو نه پس په خپله مُصلّه (يعني چرته چې ئې لمونځ کړے وي هلته) کښيني تر دې پورې چې د اشراق نفلونه اوکړي صِرف د خير خبرې کوي نو د هغه ګناهونه به بخښلے شي که هغه د سمندر د ځګ نه زيات ولې نه وي۔ [2]
**(3)** په يو حديث شريف کښې ئې اوفرمائيل: چا چې د ساخت 12 رکعتونه ادا کړل، الله پاک به د هغه د پاره په جَنَّت کښې د سرو زرو محل جوړوي۔ [3]

## کفنونه پټوونکے څنګه اوبخښلے شو؟

يوه ورځ خواجه غريب نواز رَحۡمَۃُاللهِ عَلَيۡه د درس ورکولو په وخت اوفرمائيل: د الله پاک سره د محبت کولو والا طريقه دا ده چې د سحر لمونځ ادا کړي او د لمر راختو پورې په جائے نماز ناست وي، د هغوئي مقصد دا وي چې د الله پاک په

---

1... ترمذی ، ابواب: السفر ، باب: ماذکر ممایستحب من الجلوس...الخ ،صفحہ: 171، حدیث :586-
2... ابوداود ، کتاب: الصلاۃ ، باب صلاۃ:الضحی ، صفحہ:211 ، حدیث :1287-
3... ترمذی،کتاب :الوتر،باب :ماجاء فی صلاۃ الضحی،صفحہ:141،حدیث:473-

بارګاه کښې قبول شي او په هغوئي باندې هر وخت د انوارو تجلي وي، داسې ګس چې کله د سحر لمونځ ادا کړي او په جائے نماز ناست وي نو فرښتې ته حکم اوشي چې تر څو پورې دا نه وي پاڅيدلے، تر هغه وخته پورې د ده خوا له لاړه شه او د ده د پاره بخښنه غواړه-

بيا خواجه غريب نواز رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په دې باره کښې يوه واقعه بيان کړه او اوئې فرمائيل: د کفنونو يو غل تر 40 کالو پورې کفنونه پټول، آخر چې کله هغه مړ شو نو په خوب کښې چا اوليدو چې په جنّت کښې ګرځي، خوب ليدونکي چې د هغه نه د دې وجه اوپوښتله نو اوئې وئيل: زما يو عادت وو چې کله به مې د سحر لمونځ ادا کړو نو د لمر راختو پورې به د الله پاک په ياد کښې مشغول ووم، بيا به مې د اشراق لمونځ ادا کړو- الله پاک چونکه ډير زيات بخښونکے دے، نو هم دغسې الله پاک زما دا يو عمل قبول کړو او زه ئې اوبخښلم- [1]

| | |
|---|---|
| ميں پڑھتا رہوں سنّتيں وقت ہی پر | ہوں سارے نوافِل ادا ياإلٰہی! [2] |

**اے عاشقانِ رَسُول!** خواجه غريب نواز رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ به څنګه په ښکلي انداز کښې، حديثونه اورول، واقعې به ئې اورولې او سُنَّت او آداب به ئې ښودل- الله پاک دې مونږ له د خواجه غريب نواز رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په ارشاداتو باندې د عمل کولو توفيق راکړي-

## د ماښام وختونه څنګه تير کړے شي؟

❁ کوشش اوکړئ او د ماښام د لمونځ نه مخکښې جُمات ته تشريف راوړئ او د اعتکاف نيت اوکړئ او په جُمات کښې کښينئ، د تِلاوت، ذِکر او درود او د آخرت د فِکر وغيره په نيک کارونو کښې مصروفه اوسئ ❁ د ماښام لمونځ د جَمعې سره ادا کړئ ❁ بيا د ماښام د لمونځ نه پس چې کوم وخت دے، دا د شپې ورومبئ حِصه ده، دا هم ډيره د برکت او د ډير اهميت والا ده، الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ<br>(پاره:21 سورۀ سجده:16) | ترجَمۂ کنزُ العرفان: د هغوئي اړخونه د هغوئي د بسترو نه جدا وي- |

1...دليل العارفين، صفحہ:8۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:102۔

په دې آيت شريف کښې د ايمان والوؤ يو صِفت بيان کړے شو چې د دوئي اړخونه، د دوئي د بسترو نه جُدا اوسي- د يو قول مطابق په دې آيت کښې د ماښام او د ماسخوتن ترمينځه د لمونځ کوونکو فضيلت بيان کړے شوے دے- (1)

## د اَوّابينو د لمونځ فضيلتونه

❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: عَلَيۡكُمۡ بِالصَّلَاةِ فِيۡمَا بَيۡنَ الۡعِشَائَيۡنِ يعني په تاسو باندې د ماښام او ماسخوتن ترمينځه لمونځونه ادا کول لازمي دي فَاِنَّهَا تَذۡهَبُ بِمُلَاغَاةِ اَوَّلِ النَّهَارِ وَتَسُدُّنَّ آخِرَهٗ ځکه چې دا د ورځې لغويات [د ځان سره] وړي او د هغه آخِر صفا کوي- (2) ❁ د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې خوږ آقا، د مديني والا مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې د ماښام د لمونځ نه پس 6 رکعتونه داسې ادا کړي چې د دې ترمينځه څه بده خبره اونکړي نو دا 6 رکعتونه به د 12 کالو د عبادت برابر وي- (3) ❁ د حضرت ثوبان رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې خوږ آقا، د مديني والا مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې د ماښام او ماسخوتن [د لمونځونو] ترمينځه په جُمات کښې کښيني، د لمونځ او قرآن نه علاوه بله څه خبره اونکړي، نو د الله پاک په ذمهٔ کرم باندې حق دے چې د هغه د پاره په جنّت کښې 2 محلونه جوړ کړي او د هر محل مزل به 100 کاله وي- (4)

❁ په يو روايت کښې دي چې رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د ماښام او د ماسخوتن ترمينځه لمونځ، د اوّابين (يعني د ډير زيات توبه کوونکو) لمونځ دے- (5)

## (4): د څلورو شپو قيام لازمي کړئ!

اے عاشقانِ رَسُول! مونږ ته ورځې شپې څنګه تيرول دي؟ په دې باره کښې څلورم مدني ګل: دا دے چې د شپې د اوده کيدو نه مخکښې کم نه کم يوه ګهنټه داسې مقرر کړئ، په کومه کښې چې صِرف عبادت کوئ او بَل څه کار نه کوئ- کوشش اوکړئ چې په دې يوه ګهنټه کښې د پوره ترتيب سره عبادت اوکړئ ❁ که ممکنه وي نو يو

---

[1]... احياء العلوم(مترجم)، جلد:1، صفحه:1014ماخوذاً-
[2]... فردوس الاخبار، جلد:3، صفحه:50، حديث:3844 ـ
[3]... ترمذی، کتاب السهو، باب ماجاء فی فضل التطوع، صفحه:131، حديث:435 ـ
[4]... قوت القلوب، الفصل الحادی عشر، جلد:1، صفحه:58 ـ
[5]... جمع الجوامع، جلد:7، صفحه:47، حديث:20844 ـ

سُوټ بيل د دغه وخت د پاره کيږدئ، ګنې نو بيا صفا ستهرا جامې واچوئ ❁ تازه اودس اوکړئ ❁ خوشبو اولګوئ ❁ او کم نه کم يوه ګهنټه د الله پاک عبادت اوکړئ، که اوغواړئ لمونځ اوکړئ، تلاوت اوکړئ، درودِ پاک اولولئ، بلکه بهتره دا ده چې يو څو عبادتونه يو ځائے کړئ مثلاً 15 منټه نفلونه اوکړئ، 15 منټه تلاوت اوکړئ، 15 منټه درودِ پاک اولولئ او په آخري 15 منټو کښې يو ديني کتاب اولولئ، د هفته وارې رسالې لوستونکې دې په ديني کار باندې عمل اوکړي، د شيخِ طريقت، اميرِ اهلسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډيره ښکلې رساله ده: **انمول هيرے** کومه چې د وخت د اهميت په باره کښې ده دا اولولئ، داسې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ستړې کيږئ هم نه، د پوره زړه لګولو سره به يوه ګهنټه په عبادت کښې په تيرولو کښې کامياب شئ!

د دې عبادت ثواب څه دے؟ راځئ! واورئ!

## د شپې د لمونځ په فضيلت باندې 3 حديثونه

**(1)**: حضرت ابو هُريره رَضِىَ اللهُ عَنْهُ فرمائي، ما عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماته د هغه څيز په باره کښې اووائيئ، د کوم د خپلولو سره چې زه جنّت بياموم- اوئې فرمائيل: خوراک [په نورو باندې] اوکړه او سلام خور کړه او صِله رحمي اوکړه او د شپې چې کله خلق اوده وي نو (نفلي) لمونځ کوه، ته به د سلامتيا سره جنَّت ته لاړ شې-[1] **(2):** د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په جنَّت کښې داسې بالاخانې دي، د کومو بهر چې د دننه نه او دننه د بهر نه ليدے شي- يو اَعرابي راپاڅيدو او عرض ئې اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا د چا د پاره دي؟ نو هغوئې صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د هغه چا د پاره دي، څوک چې نرمې خبرې کوي، په خلقو باندې خوراک کوي، پرله پسې روژې نيسي او د شپې چې کله خلق اوده وي نو راپاڅي او د الله پاک د پاره لمونځ کوي-[2] **(3):** خوږ آقا، د مدينې والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت ابوذر غفاري رَضِىَ اللهُ عَنْهُ ته اوفرمائيل: که چرې ته د سفر اراده اوکړې نو د هغې د پاره به څه تياري کوې؟ عرض ئې اوکړو: آؤ جي- اوئې فرمائيل: د قيامت د سفر څه حال دے؟ اے ابوذره! آيا زه تاته د هغه څيزونو په باره کښې اونه وايم کوم چې به تاته په هغه ورځ ګټه درسوي؟ عرض ئې اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما مور پلار په تاسو باندې قربان! ضرور ئې اووائيئ- خوږ آقا، د مدينې والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د قيامت د ورځې د پاره په سخته ګرمئ کښې روژه نيسه، د قبر د

---

[1]... مُسنَدِ امام احمد، جلد:4، صفحه:209، حديث:8152 -
[2]... ترمذی، کتاب: صفة الجنة، باب: ماجاء فی صفة غرف الجنة، صفحه:597، حديث:2527-

وحشت د پاره د شپې په تیاره کښې دوه رکعته کوه، د لویو لویو (پیښېدونکو) چارو د پاره حج کوه او یو غریب له د یو څیز ورکولو سره یا د حق خبرې کولو یا د څه بدې خبرې نه د چپ پاتې کیدو سره صدقه کوه۔ (1)

## د دوزخ نه خلاصے میلاؤ شو

د رِسالت په زمانه کښې د یو کَس معمول وو چې کله به خلق اوده شول نو هغه به لمونځ ادا کولو، د قرآنِ پاک تلاوت به ئې کولو او د الله پاک په بارګاه کښې به ئې عرض کولو: يَا رَبَّ النَّارِ اَجِرْنِيْ مِنْهَا یعني اے د اور رَبَّه! ماله د دې نه خلاصے راکړه۔ په بارګاهِ رسالت کښې چې د دې کَس ذِکر اوکړے شو نو هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: چې کله بیا داسې کیږي نو ما خبر کړئ (هم دغسې، چې کله خبر ورکړے شو نو) هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه [کَس] خوا له تشریف یوړلو او د هغه خبرې ئې واوریدلې۔ کله چې سحر شو نو اوئې فرمائیل: اے فلانکیه! تا د الله پاک نه د جنّت سوال ولې اونکړو؟ هغه عرض اوکړو: یَا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما دومره مقام چرته او نه زما عملونه د دې قابل دي۔ لږ وخت تیر شوے وو چې حضرت جبرائیل عَلَیْهِ السَّلَام د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: یَا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا خبر کړئ چې الله پاک دا د اور نه خلاص کړے دے او جنّت ته ئې بوتلے دے۔ (2)

| | |
|---|---|
| عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی! | گُناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی! |
| میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی! |
| میں پڑھتا رہوں سنّتیں، وقت ہی پر | ہوں سارے نوافل ادا یاالٰہی! |
| دے شوقِ تلاوت دے ذوقِ عبادت | رہوں باوُضو میں سدا یاالٰہی! (3) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## هره ورځ دا 4 کارونه هم کوئ!

حُجَّةُ الاِسلام امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: اسلافِ کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهِم به هره ورځ 4 کارونه یو ځائے کول مستحب ګنړل: (1): روژه نیول (2): صدقه ورکول که هغه لږه ولې نه وي (3): د مریض تپوس کول (4): جنازې ته حاضریدل۔ د دې 4 څلورو کارونو په باره کښې خوږ آقا، د مدینې والا مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1... موسوعہ امام ابن ابی الدنیا، التہجد وقیام اللیل، جلد:1، صفحہ:247، حدیث:10 ۔
2... احیاء العلوم، کتاب:ترتیب الاوراد، باب:الثانی، جلد:1، صفحہ:469۔
3... وسائلِ بخشش، صفحہ:102۔

اوفرمائیل: مَنْ جَمَعَ بَيْنَ هٰذِهِ الْاَرْبَعِ فِيْ يَوْمٍ غُفِرَ لَهٗ يعني چا چې دا 4 کارونه په يوه ورځ کښې راجمع کړل نو هغه به بخښلے شي-[1] په يو روايت کښې دي چې هغه به جنّت ته ځي-[2]

که چرې په دې کښې د بعضو د کولو موقع میلاؤ شي او د بعضو نه عاجزه راشي (چې په څه وجه ئې اونکړے شي) نو هغه ته به د هغه د نيت په لحاظ سره د ټولو عملونو ثواب ميلاويږي-

## د نيکانو خلقو د خوښې عمل

د الله پاک نيکانو بنده ګانو به دا نه خوښوله چې يوه ورځ داسې تيره شي په کومه کښې چې هغوئي صدقه اونکړي که هغه د يوې کجورې يا پياز يا ډوډئ قطره ولې نه وي ځکه چې رحمت عالم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: كُلُّ امْرِئٍ فِي ظِلِّ صَدَقَتِهِ حَتّٰى يُفْصَلَ بَيْنَ النَّاس يعني د (قيامت په ورځ) به بنده د خپلې صدقې په سورې کښې وي تر دې پورې چې د خلقو په مينځ کښې فيصله اوکړے شي-[3] په يو روايت کښې دي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ يعني د (دوزخ د) اور نه بچ شئ که هغه د کجورې په يوه ټوټه ولې نه وي-[4]

## د دې کارونو عادت هم جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼرو! د خپلې ورځې او شپې په کارونو کښې ❁ مدني چينل کتل هم شامل کړئ! که ډير نه وي نو کم نه کم 1 ګهنټه 12 منټه جَدوَل خو لازمي جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د مدني چينل کتلو سره به ډير زيات برکتونه ميلاؤ شي مثلاً ❁ ديني معلومات به مو زيات شي ❁ د لمونځ، روژې، اوداسه، غُسل او د فقهي د نورو مسئلو زده کولو سعادت به نصيب شي ❁ د عمل جذبه به نصيب شي ❁ د تلاوت، حمد، مُناجات، نعت او منقبتونو اوريدو سعادت به ميلاؤ شي ❁ دغه شان د نيکئ دعوت ورکول، د ګناه نه منع کول هم د هر مسلمان په بنيادي ذمه وارو کښې دي، ځکه د نيکئ د دعوت عام کولو د پاره هم وخت اوباسئ، کوشش کوئ او هره ورځ کم نه کم 2 ګهنټې د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني کارونو ته ورکول خپل معمول جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼرو! دا د ورځو او شپو تيرولو آسان جَدوَل عرض کړے شو، د دې مطابق مونږ د دنيا د مصروفياتو سره سره ډير په آسانئ سره د نيکو والا ژوند تيرولو کښې کاميابيدے شو- الله پاک دې د عمل کولو

---

1... احياء العلوم، کتاب: ترتيب الاوراد، باب: الاول، جلد: 1، صفحه: 460-
2... مسلم، کتاب: الزکاة، باب: من جمع الصدقة...الخ، صفحه: 369، حديث: 1028-
3... مستدرک، کتاب الزکاة، کل امرئ في ظل صدقة، جلد: 2، صفحه: 43، حديث: 1557-
4... مسلم، کتاب: الزکاة، باب: الحث على الصدقة، صفحه: 365، حديث: 1016-

توفیق راکړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نیک اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د نیکو کولو او په ښه انداز کښې د ورځې شپې تیرولو یوه بهترینه نُسخه عطا کړې ده د کومې نوم چې دے: نیک اَعمَال- د اسلامي ورونړو د پاره: 72 نیک اعمال- د اسلامي خوئیندو د پاره 63، د سکولونو، کالجونو او جامعة المدينه د نارينه طالب علمانو د پاره 92، د زنانوؤ طالب علمانو د پاره 83 او د مدرسةُ المدينه د ماشومانو د پاره 40، دغه شان د خصوصي ماشومانو (***Special Persons***) یعني ګونګیانو [چاړاګانو (***Deaf***)، کنړو (***Dumb***) او د سترګو د نظر نه د محرومه (***Blind***)] اسلامي ورونړو د پاره 27، د قیدیانو د پاره د 52 نیک اعمالو ترتیب جوړ کړے دے- دا وړه شان رساله د مکتبة المدينه نه اوغواړئ او که چرې اوغواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ویب سائټ (www.dawateislami.net) نه ئې ډاؤن لوډ کړئ بلکه که نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل کښې ***Naik Amal*** ایپلي کیشن انسټال کړئ، په دې کښې په مختلفو نیکو عملونو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي، د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي، هره ورځ د خپلې خوښې یو وخت مقرر کړئ او د خپلو عملونو جائزه اخلئ، او د هغې مطابق ژوند تیروئ، اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم! د دې په برکت سره به د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکو کولو ذِهن جوړیږي، د زړه پاکي به نصیب کیږي او کردار به مو صفا ستهرا، ځلنده، ښکلے شي- راځئ د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے اورو:

## ټوله کورنۍ سمه شوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تیرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لمونځونه قضا کول وغیره زما په معمولاتو کښې شامل وو، یو ځل زمونږه علاقې ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې یو اسلامي ورور ماته د ماښام د لمونځ کولو او بیان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د ماښام د لمانځه نه پس بیان ما له ډیره مزه راکړه، د بیان په آخره کښې مبلغ د نیک اعمال رسالې پیژندګلو اوکړه، په رساله نیک اعمال کښې د درج د نیکو نه ډک ژوند تیرولو مدني ګل لیدو سره ماته ډیره خوشحالي میلاؤ شوه، د دې رسالې په شکل کښې د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اصلاح د پاره د محنت لیدو سره ما لاس په لاس د بیعت کولو د

پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولئ کامل سره نسبت څه جوړ شو چې د ګناهونو نه بيزاره شوم او د نيکو طرفته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول مې د زړه نه خپل کړو، د دې په برکت سره هم ښه اثر اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! په مزه مزه ټوله کورنئ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لمونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامې او سندرې باجې بندې شوې او د ګناهونو نه د ډک چينل په ځائے مدني چينل اولګيدو- [1]

خوب مَدنی قافلوں کی دھوم ہو | نیک ہو امّت اے نانائے حسین
"مَدنی اِنعامات" کی ہو ریل پیل | نیک ہو امّت اے نانائے حسین [2]

**نوټ**: د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې **مدني انعامات** ته اوس **نيک اَعمَال** وئيلے شي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مدني قاعِده *(Madani Qaida)* موبائل ايپلي کيشن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مدني قاعِده **(Madani Qaida)** دے- په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مدني قاعِده او د دې آډيو **(Audio)** شامله کړے شوې ده يعني په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مدني قاعِدې په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک **(Click)** کوئ، په آډيو **(Audio)** کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن په مرستې سره په آسانئ سره مدني قاعِده لوستل، د دې مشق **(Practice)** کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي- دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د قرآنِ پاک تلاوت کول سُنَّت دي

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين: (1):** زما د اُمَّت افضل عبادت د قرآن تلاوت دے [1] **(2):** څوک چې د شپې **200** آيتونه تلاوت کړي، د هغه نوم به په عبادت کوونکو کښې ليکلے شي او څوک چې د

---

1...دلوں کا چین، صفحہ:4۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:258۔

400 آيتونو تلاوت اوکړي، د هغه د پاره به يو قِنطَار اَجر ليکلے شي، يو قِنطَار د 120 قيراط برابر دے او يو قيراط د اُحُد د غر همره دے-[2]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د قرآنِ کريم تلاوت کول سُنَّت عمل دے- زمونږه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د قرآنِ کريم ډير زيات تلاوت کولو ❀ حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: يو څيز به هم هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تلاوت کولو نه، نه منع کولو ❀ هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د شپې په لمونځ کښې کله نا کله د ټول سُورَۂ بقره او د سُورَۂ آلِ عمران تلاوت کولو ❀ هره شپه به ئې د سُوْرَۂ سجده، سُورَۂ ملک، سُورَۂ بنی اسرائيل، سُورَۂ زُمَر، سُوْرَۂ کافرون، سُوْرَۂ فلق او سُوْرَۂ ناس تلاوت کولو او اوده کيدلو-

الله پاک دې مونږ له هم د قرآنِ پاک د زيات تلاوت کولو توفيق راکړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

الٰہی خوب دے شوق قرآں کی تلاوت کا
شَرَف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

غم کے بادَل چھٹیں قافلے میں چلو
خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو
رب کے دَر پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں
بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ...شُعَبُ الْاِیْمان، باب: تعظیم قرآن، جلد:2، صفحہ:347، حدیث:2004-
[2] ...شُعَبُ الْاِیْمان، جلد:2، صفحہ:401، حدیث:2197-

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصًا

2... القول البدیع، الباب الثانی، ص ۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَمَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹
2... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵
3... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

لوستونڪي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريڪه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريڪه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/ ۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/ ۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵